# د تخت بهائی کنډرات د ګندهارا تهذیب یوه ښکلي نمونه

Nagina Bibi [1] Dr Attaur Rehman [2]

## ABSTRACT

*The Takht-I-Bhai area of Mardan has a special status of Buddhist monastery which is a beautiful example of Gandhara civilization. Every year, countless number of people from different parts of the country comes here to visit these historical places and observe the ancient relics of Gandhara civilization. Historians agree that thousands of years ago, Takht-I-Bhai was the cradle of Buddhism. Even now, the traces of that era can be clearly seen here. In this article we have tried to discuss about the historical significance of the Buddhist ruins of Takht-I-Bhai, Mardan.*

ګندهارا چې د هندوستان، وسطي ایشیاء او مشرق وسطیٰ تر مېنځه د تجارت لاره وه اود شپږ سوه قبل مسیح یعني د **عیسیٰ**ؑ نه مخکښې هم آباد وو خو څه محققین د ګندهارا تهذیب شمار د دویم قبل مسیح نه کوي. ځنې محققین دا هم ګڼي چې ګندهارا تهذیب د پنځم قبل مسیح د نیمې نه تر یولسم قبل مسیح پورې قائم وۀ. د دنیا پۀ قدیم ترینو تهذیبونو کښې د ګندهارا تهذیب شمار کیږي کوم چې د ټولو قدیم او لوئې ریاست وۀ او د موجوده پاکستان پۀ شمالي علاقو، خیبر پښتونخوا او د پنجاب د ټېکسلا، پوټوهار، جهلم او ملتان پۀ علاقو مشتمل وۀ. پۀ ګندهارا ریاست کښې د افغانستان څۀ علاقې هم شاملې وې کومې چې د دریائے کابل پۀ شمال کښې واقع دي. د ګند هارا عظمت او شان و شوکت هغه وخت مخ پۀ ځوړتیا شو چې محمود غزنوي پۀ ۱۰۲۱ زیږ دیز کال دګند هارا پرارتې او پراخې سیمې برېد وکړ او دغه سیمه ئې پۀ خپله ولکه کې راوستله چې مشهور مؤرخ او دنجوم دعلم ماهر البېروني چې دمحمود سره ددۀ دحملو پۀ وخت کښې ملګرے وۀ پۀ خپل کتاب الهند کښې د ګندهارا دسیمو پۀ اړوند بشپړې لیکنې کړي دي.

ګندهارا د سنسکرت ژبې لفظ دے او د دې لفظ جرړې د اروپائې مذهبي کتاب رګ وېد نه مېلاویږي. مشهور شمېرپوهه او تاریخ پوهه ”البېروني“ ورته هم لفظ ګندهارا وئیلي دي کوم چې پۀ معنیٰ ”د اوبو

[1] Lecturer, department of Pashtu, AWKUM
[2] Assistant Professor, Government Jehanzeb College, Swat

د زمکې" استعمال شوے دے. د ګند هارا يادونه د هندوانو په سپيڅلو متونو د ويدي سرودونو د لومړي ټوک په ۱۲۶ او ۱۲۷ سرودونو کښې هم شوې ده چې معنیٰ ئې "درنړا ګانو ځاے" دے. ګندهارا لفظ په معنیٰ "د خوشبويانو د ښار" هم استعمال شوے دے خو زياتره محققين "د اوبو د زمکې" په معنی متفق دي ځکه چې دا رياست د دريائے سندهـ او دريائے کابل تر مېنځه آباد وۀ. ډېرو قومونو وخت په وخت دلته حکومتونه کړي دي او خپل ځان ته يې جدا رياستونه آباد کړي دي. خو په درې سوه شپږويشتم قبل مسيح کښې چې کله سکندراعظم په دې علاقو حمله وکړه نو دغه وخت ګندهارا د ايران اوومه صوبه ګڼل کېده. سکند اعظم په خپله دلته څه ډېر وخت تېر نه کړۀ خو ولې د دې نه پس تر ډېره وخته دلته يونانيانو حکومت وکړو او خپل واړۀ واړۀ رياستونه يې جوړ کړل. کنشکه، اشوکا او چندر ګپتا موريا يونانيان په تېښته مجبوره کړل او هر يو په خپل خپل ځاے په دې رياست حکومتونه وکړل.

د ګندهارا په لويو مرکزونو کښې پېښور، چارسده، کوهاټ، باجوړ، دير، سوات او تخت بهائي مردان شامل وو. او نن هم په دغه ځايونو کښې د ګندهارا تهذيب لرغوني آثار مونږ ته په نظر راځي. تخت بهائي، چې د مردان ضلعې يو ډېر مشهور او ښکلے ځاے دے. د پېښور ښار نه تقريبا اتيا کلوميټره لرې او د مردان ښار نه خواۀ شا پنځلس شپاړس کلوميټره شمال نمر ختيځ اړخ ته پرته علاقه ده. تخت بهائي ته د تحصيل درجه حاصله ده او د مردان ضلعې برخه ده. دا يو ډېره ښکلې او ښېرازه علاقه ده. په لوړه پرته ده د اوبو او شينکي پکښې هېڅ کمے نشته . دلته ډېر داسې ځايونه هم شته چې د کتو قابل دي او د تاريخي اهميت حامل دي. په دغه ځايونو کښې يو د تخت بهائیٰ کهنډرات هم دي کوم چې د ګندهارا تهذيب په تاريخي آثارو کښې شامل دي او په ټوله نړیٰ کښې خپل يو ځانګړے مقام او حېثيت لري. د ډېر لرې لرې نه خلک د دې تاريخي آثارو ليدلو له راځي. ملاکنډ، سوات، دير او چترال ته چې کوم سېلانيان په چکر ځي نو هغوي هم د تخت بهايیٰ په لاره تېرېږي او اکثر سېلانيان د تخت بهايیٰ کنډراتو ليدلو لپاره دلته دمه کوي.

د تخت بهايیٰ د وجه تسميه په حقله د مختلفو خلکو مختلفې رائې دي لکه ځينې مشران دا خبره کوي چې پخوا زمانه کښې دلته يو هندو اوسېدو نوم يې بهائي وو او په مالي لحاظ سره ډېر شتمند وۀ. دۀ ځان له په اوچت ځاے يو تخت جوړ کړے وۀ په هغې به ناست وۀ نو ځائي خلکو به ورته "د تخت بهائي" وې او د وخت سره سره دا ځاے په "تخت بهائي" مشهور شو. دويمه دا چې تخت اوچت ځاے ته وئيلے کيږي او بهائي بهيدونکو اوبو ته چې قدرتي طور د چينو په شان راراوانې وي. چونکه دا علاقه اوچوته پرته وه او دلته د رڼو اوبو ډېرې چينې وي نو ځکه ورته تخت بهائي وئيلے شي. د تخت بهائي کهنډرات چې د تخت بهائي بازار نه په لږه فاصله پراتۀ دي او ټول په شپږ سوه پنځوس کناله رقبه باندې مشتمل دي. مشهور آرکيالوجسټ محمد "عثمان مردانوي" په ليکوال رساله کښې د تخت بهائي کنډراتو په حقله ليکي چې:

> ”دا آثار د زمکې نه تقريباً پنځه سوه او د سمندر د سطحې نه خوا ؤ شا شپاړس سوه فُټه اوچت دي. د دې کنډرو په باره کښې يو چينې سېلانې يا مؤرخ څه ليک يا ذکر نۀ دے کړے. د دې آثارو پته په وړومبې ځل د رنجيت سنګهـ يو فرانسيسې فوجي جرنېل په 1836ء کښې کړې وه. د دې ځاے سروے کنستې د انګرېزانو په وخت کښې د 1907ء نه تر 1911ء پورې شوې وې. د تخت بهائي ټول آثار دا کنډرې په 650 کنال رقبه پرتې دي. دې خانقاه ته د راتګ دوه لارې وې. يوه لار د شمال اړخ نه او دويمه د جنوب اړخ نه"[1].

د تحت بهائي په کنډراتو کښې ډېرې ودانۍ جوړې شوي دي او په جدا حصو کښې تقسيم شوي دي ۔ دا ټولې په خپل ځائے د اهميت وړې دي ۔ دلته د راتلو هسې خو ډېرې لارې دي خو د ټولو نه آسانه لاره پکښې د شمال اړخ نه راغلې ده چې پونړۍ ورته جوړې شوي دي په پونړو چې کله بره اوخېژې نو استوپې جوړې شوي دي چې اوچتوالے به ئې لږ تر لږه شلور فُټه وي او ساخت ئې څلور ګوټيز دے په دې باندې د بدها بُتان جوړ شوي وو او دا بُتان د چونې او ګټو نه جوړ وو ۔

په دې کهنډراتو کښې چې شمال طرف ته کومه خانقاه د بدها طالبانو دپاره جوړه شوې ده په هغې کښې پينځلس کوټې دي ۔ چې ښې هواداره دي تاخونه او روشندانونه هم پکښې دي ۔ دا کوټې درېو اړخونو نه جوړې شوي دي په يوه کوټه کښې به صرف دوه کسان اوسېدل ۔ باورچي خانه ئې مشرق طرف ته ده په دې خانقاه کښې غټه کوټه يوه غسل خانه او بالکل په مېنځ کښې د اوبو تالاب هم دے چې اوس اوچ دے ۔ په دې کښې چې کوم هال دے نو دا تقريباً پنځوس فُټه اوږد او پنځو س فُټه پلنوالے لري ۔ ددې هال په دېوالونو کښې د ډيوؤ کېښودو دپاره تاخونه هم جوړ شوي دي دلته به راهبان د مسئلو حل کولو دپاره راغونډېدل او د شپې به ئې هم پکښې ناسته کوله ..

په دې کهنډراتو کښې چې کومې ډبې جوړې شوي دي د دې په حقله عثمان مردانوي په خپل مضمون ”د تخت بهائۍ بدهائي خانقاه“ کښې ليکي چې:

> ”خانقاه ته بلکل مخامخ لويه سټوپه ده چې ورته پنځلس پوړۍ جوړې شوي دي. دا سټوپه شپږ پنځوس فټه اوږده او پنځه څلوېښت فټه پلنه ده. يو وخت وه چې دا يوه ښکلې سټوپه وه او تقريباً پنځلس فټه اوچته وه او په دې ډېره ښائيسته ګل کارې وه او پرې د بدها لوئې واړه بتان لګولے شوي وو خو اوس پرې څۀ هم نشته. د دې سټوپې درې اړخونو ته لوئې معابد خانې دي چې دپاسه پرې ګول د ګنبد په شان چتونه دي چې څۀ پکښې اوس هم روغ او اصلي حالت کښې دي. دې معابد خانو کښې د وړو سټوپو د انګڼ نه جنوب اړخ ته دوه پټې لارې وتې دي، يوه لار د مراقبې جدا جدا خانو ته تللې ده. دا مراقبه خانې ټولې لس دي او په مېنځ کښې

> يې يوه لار ده. دا محرابي لار ده. په دې تنګو مراقبه خانو کښې به د بدها راهبانو مراقبې کولې"[2] .

دلته د غرۀ دپاسه نوري آبادی هم شته چې څۀ پکښې دوه چتيزه هم دي په دې غر کښې نوري ستوپې هم موجودي دي . چې څۀ پکښې لوئې او څۀ ورې دي دلته د بهر وتلو دپاره يوه لاره هم شته چې نورو آبادو اړخ ته تلې ده . دا لار به د بدها طالبانو تلو راتلو دپاره استعمالوله . د ګندهارا آرټ ډېر آثار ددې ځائے نه تر لاسه شوي دي . د تخت بهائي کنډرات په ايشياء کښې د بده مت د تعليماتو د زدۀ کړې د ټولو نه لوئې مرکز وۀ چې د لرې ملکونو نه به د بدها طالب علمان د زدۀ کړې دپاره دلته راتلل او دلته به ئې خپله علمي تنده سړوله . ددې کنډراتو د جوړښت نه داسې معلوميږي چې دا طالب علمان به هم دلته اوسېدل او هر قسمه سهولتونه ورته ميسر وو . دا کنډرات څۀ کم و بېش ۲۱۰۰ کاله مخکښې جوړ شوي دي .

د دې کهنډراتو د اهميت، جوړښت او رقبې په حقله خالد خان خوېشکي په خپل کتاب "ګندهارا (د پښتونخوا د لرغونو آثارو ننداره)" کښې ليکي چې:

> "په کال۱۹۷۶ء کښې يونيسکو چې کله د سندهـ صوبې موهنجوډړو او د پنجاب صوبې په ټيکسلا کښې زړې آبادی نړيوالې ورثې وګرځولې، نو د خيبر پښتونخوا په مردان کښې يې د بدهـ مت دغه عبادت ځايونو او مدرسو ته هم دغه درجه په دې بنياد ورکړه چې دا مونږ ته د انسانانو د ژوند ژواک، خوراک څښاک او دود دستور او په عبادت ځايونو سربېره د يوه پلان لاندې د ودانيو د جوړولو نقشه هم وړاندې کوي[3] .

ددې کنډراتو په حقله د لرغونو آثارو مشران او څېړونکي دا رائے لري چې دا کنډرات او په دې کښې د بده مت عبادت خانې د عيسیٰ ع د پېدائش نه هم يو نيم سل کاله مخکښې نه آبادې وې يعنې دا ډېر پخوانې کنډرات دي خو د وخت د تېرېدو سره سره په دې کښې ډېر بدلون راغلے دے .

ددې کنډراتو په حقله دا هم صحيح پته نۀ لګي چې په رومبي ځل دا آثار چا په ګوته کړي وو او کله موندلے شوي دي . خو وئيلے کيږي چې د رنجيت سنګ د دربار يو فرانسيسي افسر جنرل کورټ په ۱۸۳۶ ميلادي کال کښې دغه لرغوني آثار په ګوته کړي وو .

د پېښور يو چاروا کے بخت محمد په دې حقله وائي چې!

> "په ۱۸۳۶ ميلادي کال کښې يو انګريز افسر جنرل کورټ تخت بهائي ته لاړو او دغه کنډري يې پېدا او په نخښه کړې بيا په ۱۸۶۸ ميلادي کال کښې په ورومبي ځل دلته کېندنې وشوې. په ۱۹۷۲ او ۱۹۷۴ کښې هم په دې کښې کيندنې وشوې خو له ټولو لوئې کېندنې او څېړنې پکښې د ۱۹۰۸ نه تر ۱۹۱۱ء کلونو په دوران کښې شوې دي. دا کنډرې د تخت بهائي د غرۀ دپاسه پرتې دي چې ټوله رقبه

> ئې ۷۸۶ کنالـه ده. تـخت بـهائـی پـهٔ سنسکرت ژبـه کښې د اوبـو ذخیرې تـه وائـي چې د کېندنـو پـهٔ دوران کښې پـکښې د اوبـو د ذخیـرو دوه ټـېنکـی هم مـونـدل شـوي نـو پـهٔ هم دې وجه ورتـه دا نـوم ورکـړل شـوے دے.[4]

د لـرغونـي آثـارو محققـین وائـي چې د تـخت بـهائـي کنډرې پـهٔ ړومبـي ځل د ګـونـډو فـریـز بـاچا پـهٔ زمـانـه کښې جوړې شوې وې ځکه چې ددې کنډرو نـه دوي تـه یـوه کـتبه پـهٔ لاس ورغلې ده چې خروشتي لـیک پرې شـوے دے ۔ پـهٔ دې لـیک کښې داسې حوالـې شتـه چې پـتـه تـرې نـه لـګي چې دا کنډرات د ګندهارا مشهور بـاچا ګونډو فـریـز پـهٔ وخت کښې دریـافت شوي وو ۔

پـهٔ شروع کښې دلـتـه صرف د اوسېدو بـندوبـست وهٔ د طالـب علمانـو او استـاذانـو دپـاره البـتـه د خوراک او څښاک څهٔ مـناسب بـندوبـست نـهٔ وهٔ ۔ نـو دا چنې بـه نـزدو کلـو تـه تـلل او هلـتـه د کورونـو نـه بـه ئې وظیفه راټـولـولـه ۔ او پـهٔ هغې بـه ئې خپـل ګـزر بـسر کـوهٔ ۔ خؤ روستـو بـیـا دلـتـه ددوي دپـاره د هر څهٔ بـندوبـست اوشو کـوم چې ددې کنډراتـو لـیدو نـه معلـومـیـږي ۔

> د تـخت بـائـی د کـهنډراتـو پـهٔ حقـلـه د تـاریخ کتـابـونـه لـیکي چې د پـارتـین لـه دور نـه واخلـه تـر شپـږمې مـیـلادي پـېړی پـورې د ودانـی جوړولـو او ژونـد تـېرولـو تـرتـیـب پـهٔ نـظر راځي، چې د کېندونـو پـهٔ وخت پـکښې د بـېلابـېلـو دورونـو سیکې او نـورې نـښانـې هم مـونـدل شـوي دي. ډاکـټـر قـاضي نـعیـم پـهٔ دې اړه وائـي چې ”د ګـونـډو فـریـز نـه واخلـه تـر د کـوشانـیـانـو د وخت پـورې ډول ډول آثـار پـهٔ لاس راغلـي، لـه دوي نـه وروستـه اول کـنـشکا چې یـو ډیـر عظیم بـادشاه تـېـر شـوے دے، د دهٔ پـهٔ دور کښې هم د تـخت بـهائـی پـهٔ کـنډرو کښې د ودانـیـو ډیـر کـارونـه شـوي دي.“[5]

د تـخت بـائـي کنډرات نـن سبـا هم پـهٔ ډیـر ښهٔ حالـت کښې مـوجود دي االـبـتـه پـهٔ دې کښې چې کـومې کـنستـې شـوي دي د هغې پـهٔ وجه پـکښې ځینې ځایـونـه خراب شوي وو خو دوبـاره ئې هم پـهٔ هغهٔ حالـت کښې سمـونـې شوي دي ۔

د قـاضي نـعیـم د وېـنـا تـر مخه پـهٔ دې کنډراتـو کښې چې کـومې سټـوپـې دي نـو دا داسې جوړې شـوي دي چې د ګـوتـم بـده ایـره بـه ئې پـهٔ یـو لـوښې کښې واچولـه او یـو ځائـے کښې بـه ئې کېښودلـه نـو ددغه لـوښي نـه بـه ئې اخوا دېـخوا کـانـې اودرول او دغه شان سټـوپـه بـه جوړه شوه ۔ دې تـه بـه ئې "ګـرېټ سټـوپـه" وئـېلـه ۔ دلـتـه مختـلـف قسمه سټـوپـې وې لـکه اوټـیـو، مـاډل ګـریـټ ، مـیـموریـل وغېره ۔ ددې کـنډراتـو نـه زیـاتـره مجسمې اوسکې پـېښور مـیـوزیـم تـه وړلـے شـوي دي ځکه مـوجوده وخت کښې دلـتـه ډیـر بُـتـان او نـور آثـار نـشتـه ۔

پـهٔ انـټرنـېټ د ورکـړے شویـو معلـومـاتـو تـرمخه د تـخت بـهائـی کـهنډراتـو پـهٔ حقـلـه وئـیـلے کـیـږي چې:

> (ترجمه) "تخت بهائي د پېښور نه اتیا کلومیټره لرې د غرۀ د پاسه د بدهانو یوه خانقاه وه. د دې ځاے پۀ بابله پۀ ورومبي ځل پۀ ۱۸۳۶ء کښې د مهاراجه رنجیت سنګهــ یو درباري، جنرل کورټ معلومات ورکړي وو. د دې خانقاه لرغونوالے د دوېمې صدۍ عیسوی نه تر درېمې عیسوی صدۍ پورې بیانیږي. دا د پاکستان پۀ بدهائي آثارو کښې یو زړۀ راښکونکې خانقاه بللے شي. پۀ دې خانقاه کښې یو څلور ګوټیزه دالان او د استوپو پۀ مېنځ کښې بدهائي زیارتونه دي. دا زیارتونه د شُکلي ګلکارۍ او ښائیسته جوړښت جوته نمونه ده. دې سره د غرۀ نه د چاپېره سیمې ښائیسته ننداره هم پۀ نظر راځي. دا ځاے د بدهائي مذهب او د هاغه وخت د خلکو د ژوند پۀ اړه د معلوماتو پوره ګټوره پنګه بللے شي.[6]

پۀ تخت بهائي چې ګېر چاپېره کوم کلي آباد دي پۀ هغې کښې چې اوس هم آبادي کولو دپاره کنستي اوکړي نو خامخا پکښې بُتان او د سرو زرو سیکې را وځي پۀ کامرا ن کلي کښې ډېرو کورونو کښې بتان راوتي دي . ددې نه معلومېږي چې پخوا پۀ زمانه کښې دلته هندوان او بدهایان اوسېدل . دا کلے پۀ زړو کندراتو آباد دے چې اوس ئې هم بنیادونه پۀ ښۀ حالت کښې دي . پۀ دې کندراتو او غرونو کښې د استوګنې هر سهولت موجود وۀ . د رنـو اوبو چینې هم پکښې وې . او نور د ژوند سازوسامان هم . د چین مشهور سیاح سانګ د سفر نه معلومیږي چې تخت بهائي د هغه وخت پۀ لویو ښارونو کښې یو ښار وۀ .

د ګندهارا تهذیب چې څومره هم آثار دي پۀ دې ټولو کښې د تخت بهائي کنډرات د ډېر اهمیت وړ دي . نورالله صحرائي صېب پۀ خپل کتاب "اے ګائیډ ټو تخت بهائي" کښې د دې کهنډراتو پۀ حقله داسې وائي:

> "د تخت بهائي مشهور کهنډرات کوم چې د شمال د مېدان نه نهه کلومیټره لرې شمال اړخ ته بېل شوي هغه اسپر دے کوم چې پۀ خېبر پښتونخوا مردان کښې واقع دي. دا ملک د یوسفزو د ریاست زړۀ وۀ او د ګندهارا مرکز وۀ . دا کهنډرات چې خوا کښې ورسره زرخېزه او شکلي مېدانونه دي د غرۀ پۀ سر واقع دي او یو روماني تخیل جوړوي. د لار د نزدېکت له کبله د لرغوني تحفظ د اصولو لاندې دا کهنډرات د دلچسپۍ وضاحت پۀ خپله کوي. د یورپ پۀ اکثرو عجائب ګرو کښې چې د ګندهارا کوم بتان پراتۀ دي دا ټول تخت بهائی کښې موندلے شوي دي. دا خبره پۀ ډېر دلیل سره "ډاکټر ډي بي سپوټر" څوک چې د پېښور میوزیم محافظ او بدها آثارو کنستونکے وۀ پۀ کال ۱۹۰۷ء کښې کړې وه."[7]

پۀ ګندهارا تهذیب کښې چې څومره هم د بده مت آثار دي زما پۀ خیال د ټولو نه مشهور او شکلے ځائے پکښې د تخت بهائي کنډرات دي او ددې کنډراتو نه چې څومره هم قیمتي نوادرات راویستي شوي دي نو شاید چې

د بل ځائے نه میلاؤ شوي وي ۔ دا کنډرات د غرۀ دپاسه پۀ ډېر اوچت ځاے واقعه دي چې د زمکې نه تقریباً ۵۰۰ فټه اوچت دے او ډېر پۀ ګرانه ورته خلق خېژي ځکه چې کومې پوړۍ دې ته ختلې دي هغه هم ډېرې اوچتې او سختې دي ۔

ډاکټر اېچ ډبلیو بېلیو اسسټنټ سرجن، د مردان ګائیډ کور پۀ ۱۸۶۴ء کښې د خپلې دورې پۀ موقع تخت بهائي ته تللے وۀ هغۀ لیکي چې

”دا کنډرات پۀ وسیع علاقه پراتۀ دي او تر دې دمه محفوظ دي. دا کنډرات د تخت بهائی غر پۀ لوړه او کښته لور خوارۀ دي. د دې غر غربي غاړه کومه چې سنګلاخه سر لري، تر څو میلو پورې د سودم د سیمې مېدانونه د لوندخوړ د علاقې نه بېلوي دا کنډرات مغرب اړخ ته ناهموار ځاے نیسي کوم چې د خړ خاورین کاني شنډلهر دي دا پۀ مختلفو پرتونو مشتمل دي کوم چې د مېداني علاقې نه درې سوه فټه اوچت دي او تقریباً یو میل سطح پټوي. دا یو میل تهه د مرکزي غریز تهه دواړه مشرق او مغرب طرف ته غریزي طنډې لري. د دې تهه پۀ ګوتونو باندې د ښار عمارتونه دي او پۀ بقایه غریز تهه باندې شمالي مېداني اړخ ته خوېدونکي ځایونه دي. د غریزو څوکو مېنځ کښې قدرتي جوړې شوي ډډې نالۍ دي.“[8] (د انګرېزۍ نه ژباړه)

د تخت بهائی پۀ کنډراتو کښې چې وخت پۀ وخت کومې کنستې شوي دي او د هغې پۀ نتیجه کښې کوم څیزونه سیکې یا نور قیمتي نوادرات پۀ لاس راغلي او ښکاره شوي دي د هغې پۀ بنیاد دا کهنډرات پۀ جدا جدا کلونو کښې تقسیم شوي دي. پۀ دې حقله عثمان مردانوي صېب پۀ خپل آرټیکل ”تخت بهایی بدهائي خانقاه“ کښې لیکي:

”دا کنډرې پۀ جدا جدا کلونو کښې تقسیم شوي دي یعني وړومبے دور د دویمې صدۍ قبل مسیح نه تر دویمې صدۍ عیسوي کال پورې دے، دویم دور د دریمې صدۍ عیسوي نه تر څلورمې صدۍ عیسوۍ پورې دے، دریم دور د څلورمې صدۍ عیسوي نه تر پنځمې صدۍ عیسوۍ پورې دے او څلورم دور د شپږمې صدۍ عیسوۍ سره دے.“[9]

پۀ دې دورونو کښې مختلف کارونه پۀ دې کنډراتو کښې شوي دي لکه وړې ستوپې پۀ ړومبي دور کښې جوړې شوي دي لوئې هال او لویه ستوپه پۀ دویم دور کښې جوړ شوي دي ، د راهبانو دپاره کوټې او درې وړې ستوپې پۀ دریم دور کښې جوړې شوي دي ، مراقبه خانې ، انګڼ او کورونه پۀ څلورم دور کښې آباد شوي دي پۀ دې کنډراتو کښې انګرېزانو کنستې د ۱۹۰۷ ء نه شروع کړې وې چې پۀ وخت د ۲۰۱۲ء پورې جاري پاتې شوي دي او ډېر قیمتي آثار او نوادرات ترې راؤښکلے شوي دي ۔ هغه د پېښور پۀ عجائب ګر کښې نمائش دپاره ایښودې شوې دي۔ پۀ دبائي اثارو کښې د تخت بهائی د کنډراتو د اهمیت نه څوک هم انکار نۀ شي کولے دا یؤ زوړ تاریخ لري د دې د جوړښت، ښکلا

اؤ تاریخ په باره کښي د انګرېزی یؤ کتاب "The Buddhist Ruins of Takht-i-bhai & the neighboring city remains at Sari bahlol" کښي لیکلي شوي دي:

"د غر څوکي ته په رسېدلو د شرقي، غربي اؤ قطبي اړخونو نندارہ یؤ خوندور منظر وړاندي کوي دغه شان جنوبي اړخ ته ئي کوه هندوکش اؤ د ملاکنډ کنډاؤ په نظر راحي۔ دا کنډرات هم د دي غر په جنوبي اترائی د یؤ حالله غاښي په لړی خوارۀ وارۀ پراتۀ دي۔ دا کنډري ډېري شانداري اؤ د بدائي دور د یادو لرغونو آثارو سره څخه دي چي د قبل مسیح د وړومبی سلیزي نه تر د هجرت د اوومي سلیزي پوري اړه لري دا اثار په څلورو برخو مشتمل دي۔

1. د سټوپادالان
2. مونسټک چېمبر
3. د مندر برخه
4. د راهبانو برخه" (۱۰)

ددي ټولو معلوماتو تر مخه دا معلومېږي چي د ګندهارا تهذیب په آثارو کښي د تخت بهائی کنډرات د ډېر اهمیت وړ دي او دا زمونږ ډېره قیمتي اثاثه ده ۔ حکومت له پکار دي چي د داسي قسمه ځایونو په خاصه توګه خیال اوساتي ۔ او چي کوم ځایونه نړېږي یا خرابېدو طرف ته روان دي د هغي دوباره سمونه اوکړے شي او عوام هم ددي حفاظت او صفائي خپله اولین فریضه اوګڼي ۔

## حوالي

1. مردانوي، عثمان محمد، "لیکوال رساله (د تخت بهائی بدهائي خانقاه)"، جاوېد آرټ ماسټر، جنګي محله، پېښور، فروري، ۲۰۱۵ مخ نمبر ۵۹
2. هم دغه اثر، مخ ۵۹
3. هم دغه اثر، مخ ۶۰

4. خوېشکي، خان خالد، "ګندهارا (د پښتونخوا د لرغونو آثارو ننداره)"، عامر پرنټنګ اينډ پبلشرز، پېښور، ۲۰۱۶ء، مخ نمبر ۹۷-۹۹
5. هم دغه اثر، مخ نمبر ۹۸
6. انټرنېټ
7. صحرائي، فداءالله، "اے ګائیډ تو تخت بهائي"، خېبر پرنټرز، کوهاټ روډ، پېښور، ۱۹۸۳ ء، مخ نمبر ۵۱

8. هم دغه اثر، مخ نمبر ۵۳
9. مردانوي، عثمان محمد، ”ليکوال رساله (د تخت بهائی بدهائي خانقاه)“، جاوېد آرټ، ماسټر جنګي محله، پېښور، فروري ۲۰۱۵ء، مخ نمبر ۶۱
10. The Buddhist Ruins of Takht-I-Bhai and the Neighboring City at Seri Bahlol, Master Plan, 2012-2017, Printed at Nexcom, Lahore, Pakistan, June 2011, Page No. 10-11